# په پښتو ادبیاتو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت

څېړنوال محمد نبي صلاحي

په پښتو ادبیاتو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت

څېړنوال محمد نبي صلاحي

۱۳۹۹ هـ ش

دا اثر چې د علمي پلوه په منظمه توګه اوبدل شوی، لیکوال په ډېره ښه توګه خپل تېزس پر څوکی کېنوي او سمه پایله ور څخه تر لاسه کوي، له ډېرو معتبرو علمي اخځونو څخه یې ګټه پورته کړې او ګټور وړاندیزونه لري.

څېړنپوه نعمت الله اندړ

ښاغلي څېړونکي خپله پروژه له منل شوو معیارونو سره سمه بشپړه کړې ده او له زیاتو مأخذونو څخه یې ګټه اخیستې ده. ټکي او لیک نښې یې په پوره غور او دقت کارولې دي. له خپل توان سره سم یې هڅه کړې څو ښو ته ښه ووایي او بدو ته بد، په دغسې موارد و کې تر ډېره بریده بریالی بریښي. د مأخذونو په ښودلو کې یې ټاکلي معیارونه له پامه نه دي غورځولي. هڅه یې کړې چې خپله لیکنه په منل شوي معیاري لیکدود برابره ولیکي. زما د معلوماتو له مخې، تر اوسه په دې ټاکلې موضوع کې دغه ډول بشپړ اثر نه دی لیکل شوی، نو ځکه به د ځانګړي اثر په توګه دا لومړنی څېړنیز اثر وي.

څېړنپوه نصر الله ناصر

سره له دې چې د څېړونکي په وړاندې د داسې یوې موضوع د څېړنې چار پرته وه چې په پښتو ژبه او ادب کې لاڅه چې په دري ژبه کې هم د ننه په هېواد او بهر نړۍ کې کومه منظمه، سیستماتیکه او اکاډمیکه څېړنه، نه وه شوې او یوازې په ځینو سرچینو کې پرې لنډې ضمني یادونې، څرګندونې او تیوریک خواره واره بحثونه شوي وو، صلاحي صاحب له هغو څخه په استفادې او د پښتو ادب د تاریخي بهیر په ژورې او دقیقې مطالعې دا ستونزمنه څېړنیزه چاره ترسره کړه.

څېړنوال سید محی الدین هاشمي

د دغه اثر د موضوع د څېړنې اهمیت او اړتیا یې محسوسه او هغه یې په علمي دلایلو باندې روښانه کړې ده . د لیکنې ژبه یې معیاري او د لیک نښو مراعات په مناسبه توګه شوی دی. په څېړنه کې له معتبرو اخځلیکونو څخه ګټه پورته شوې او د اخځ ښودنه یې، په علمي او اکاډمیکو اصولو برابره ده.

څېړنوال عبدالشکور قیومي

**Associate Prof. Mohammad Nabi Salahi**

ISBN 978-9936-645-62-2

9 789936 645622

Tradition and Value **INTRODUCTION** Writing in Pashto Literature



محمد نبي صلاحي

2020

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونيت

د پښتو څېړنو نړيوال مرکز

# په پښتو ادبياتو کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت

څېړنوال محمدنبي صلاحي

۱۳۹۹ هـ.ش

# د کتاب ځانګړنې

---

**د کتاب نوم:** په پښتو ادبیاتو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت
(د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفیع لپاره)

**لیکوال:** څېړنوال محمدنبي صلاحي

**لارښود استاد:** څېړنپوه نعمت الله اندړ

**ایډیټر :** څېړنوال محمد آصف احمدزی

**مهتمم:** احمدزی

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل – افغانستان

**د لیکلو کال:** ۱۳۹۲هـ. ل.

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹هـ. ل. /۲۰۲۰ ز

**د چاپ شمېره:** ۵۰۰ ټوکه

**د لیکوال د ټیلفون شمېره: ۰۷۹۹۸۶۱۲۹۹**

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٤٥-٦٢-۲

د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي


بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ

دا کتـاب د پښـتو د اوسـنيو ادبيـاتو سرلارو سريـزې ليکونکـو: علامـه اکاډميسـين پوهانـد عبدالشـکور رشـاد، کانديـد اکاډميسـين محمـد صديق روهي، پروفيسور تقويم الحق کاکاخېل، اسـتاد محمـد صـديق پسـرلي، استاد حبيب الله رفيع، څېړنپوه زلمـي هېوادمـل او دروېـش دراني ته په ادبي مينه ډالۍ کوم.

م. صلاحي

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګنه**


د لاربنود استاد نظر ........................................ ه
تقریظ ........................................................ ه
تقریظ ........................................................ م
تقریظ ........................................................ ق
سریزه ........................................................ ۱

**لومړی څپرکی**

**د موضوع شالید (پس منظر) ........................ ۹**

**دویم څپرکی**

**په ادبي اثر لیکلو باندې د سریزې اړتیا ............ ۳۳**

الف ـ سریزه څه ته وايي؟ ................................. ۴۲
ب ـ د مخکینۍ خبرې، یادښت، تقریظ، تقریض او سریزې تر منځ توپیرونه
او نږدېوالی ................................................ ۴۶
۱- مخکینۍ خبرې ........................................... ۴۶
۲- یادښت ................................................... ۵۰
۳- تقریظ .................................................... ۵۸
٤- تقریض ................................................... ٦۱
۵- سریزه .................................................... ٦٤
ج ـ د سریزې ډولونه ......................................... ٦۹
ا ـ منظومې سریزې .......................................... ۷۳
۲ـ منثورې سریزې ........................................... ۷۷

د ـ په نړیوال ادب کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت ..................... ۸۳

**دریم څپرکی**

**د پښتو په لرغونې او منځنۍ دوره کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت . ۹۳**
الف ـ د پښتوادب په لرغونې دوره کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت ..... ۹۳
ب ـ د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې، د سریزې لیکلو دود او ارزښت..... ۹۶

**څلورم څپرکی**

**د پښتو په اوسنیو ادبیاتو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت . ۱۱۹**
الف ـ د روښانتیا په پړاو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت............. ۱۱۹
ب ـ د ویښتیا په پړاو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت ............. ۱۲۷
ج ـ د اوښتون په پړاو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت ............. ۱٦٤
د ـ په نوي پړاو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت.................. ۱۸۳
پایله................................................................ ۲۰۹
وړاندیزونه............................................................ ۲۱۳
مأخذونه ............................................................. ۲۱۷

# د لاربنود استاد نظر

هر اولس ځانته ځانګړي ادبيات لري، څومره چې دا ادبيات هنري او صيقل شوي وي، په هماغه کچه د هماغه اولس او آن د نورو اولسونو په زړونو کې ځانته ځای پيدا کوي.

د ژبې هنري توکي ښه ترکيبونه، تشبيهات، استعارې او منظمې اوډل شوې جملې دي، چې ساده ادب ته ښکلا او هنريت ور په برخه کوي. که اديب او شاعر دا توکي ښه واوبدي، په زړه پورې څه ور څخه جوړولای او د خلکو زړونه ښکار کولای شي. په همدغه ترتيب، که چېرته کوم انجنير ښکلې ماڼۍ ډيزاين او وتلی معمار هغه په داسې توګه جوړه کړي چې هر څوک يې ليدلو ته لېواله وي، دا يوه پوړيزه او دوه پوړيزه ودانۍ که هر څومره ښکلې وي، خو د ننوتلو دروازه او لاره چې ونه لري، ټول وګړي به د هغې ډيزاين کوونکي او معمار ته د انتقاد ګوته ونيسي. او دا به خامخا له ځان سره ووايي، دا ښکلې ماڼۍ چې دروازه او درشل نه لري، نو څه ګټه ترې اخيستل کېږي.

را به شو خپلې اصلي خبرې ته چې هغه سريزه، د سريزې ارزښت او اهميت دی. که چېرته ليکلي آثار د همدغې ماڼۍ په شان دروازه او د ننوتلو لار و نه لري، هماغسې د انتقاد ګوته ور ته نيوله کېږي. نن سبا يواځې په ادبي آثارو کې نه، بلکې په ښوونيز او د تعليمي نصاب په کتابونوکې آن د سريزې، انګېزې او ورودي په نامه څه ليکنه کېږي يا د لوست په اړه پوښتنې رامنځ ته کېږي، ترڅو زده کوونکي په ښه توګه لوست ته ځير او د لوست محتوا ته په سمه توګه داخل شي.

په دغه اثرکې ښاغلي څېړندوی محمدنبي صلاحي د سريزې د ارزښت، چوکاټ او اهميت په اړه پـه مفصله توگـه خـبرې کـړې دي او سريـزه يـې د ادبي او شعري اثر هيـنداره گڼلـې ده. دده تيـزس پـه څلـورو څپرکـو کـې را نغاړل شوی او تنظيم شوی، په ترتيب سره يې د پښتو سريزو څرک، پراختيا او پرمختيا په اړه علمي خبرې کړې دي.

له کرونولوژيک اړخه يې پښتو سريزې د تذکرة الاولياء اثر څخـه را پيـل، په همدغه ډول پـه منځنـۍ ادبي دوره او د اوسـنۍ ادبي دورې پـه بېلابېلـو پړاوونو، لکه: د روښانتيا، ويښـتيا، اوښـتون او نـوي پـړاو کـې پـر ادبي آثـارو ليکل شوې سريزې د بېلگې په توگه را اخيسـتې او ځـای ځـای يـې د کـره کتنې او نقد په ترازو هم تللې دي، چې دا کار د دغه اثر علمـي برخـه نـوره هم درنوي.

ليکـوال د سريـزې ليکـل د باصـلاحيته کسـانو او د موضـوع پـه اړه د مسلکي کارپوهانو کار گڼي. هغـه څـوک چـې د موضـوع او مسـئلې پـه اړه صلاحيت او علمي ځواکمنتيا و نه لري چې پر کوم اثر سريزه ليکي، دا کـار د سريـزې ارزښـت او اهميـت او همدارنگـه د اثـر ارزښـت او اهميـت هـم را لږوي. ذهني گري، بې ځايه ستاينې او باتې په سريزه کې روا کـار نـه دی. ليکوال دا مسايل په علمي ترازو تللي دي. دی په دغـه اړه د پوهانـد علامـه عبدالشکور رشـاد سريـزې د مسـتندتوب لپـاره راوړي، چـې څـومره غنـي او بډايه دی، آن د اثر ارزښت د پوهاند رشاد په سريزه ليکلـو څـو برابـره زيـات شـوی دی. ليکـوال د دا ډول دقيقـو، مـدللو او منطقـي سريـزو د ليکلـو پلويتوب کوي.

د سريزو ليکلو په اړه يو شمېر ليکـوال داسـې نظـر لـري چـې تـر چـاپ وروسته دې پر اثر سريزه وکښل شي. د دغې نظريـې پلويـان خـورا لـږ دي،

مګر دا کار په ادبي او علمي لحاظ کوم ممانعت نه لري، دلته بیاد کره کتنې او دقیقو نظریو د بیانولو مسئله مطرح کېږي. دا کار تر چاپ وړاندې هم کیدای شي او تر چاپ وروسته هم ځینې لیکوال بیا پر خپل اثر د څو مشهورو کسانو او لیکوالو سریزې را اخلي، چې لیکوال د دا ډول مسایلو یادونه هم کړې او هغه ته یې د انتقاد ګوته نیولې ده.

ښاغلی صلاحي کله چې د سریزې ښېګڼې راوړي، ورسره ورسره یې د نامتو لیکوالو او ادبپوهانو په اړه هم علمي او څېړنیزې یادونې کړې دي.

دا خبره د خورا اهمیت وړ ده، چې سریزه باید د کتاب پېژندنې پر بنسټ ولیکل شي. د اثر د اهمیت او ماهیت پر اساس باید پراخه او ژوره شي، او سریزه باید پیل، اوج او پایله ولري.

د سریزې بله مهمه ځانګړتیا دا ده چې جامع او جذابه وي، چې دا کار بیا لوستونکی د ټول اثر لوستلو ته هڅوي او هڅه دې وشي چې په سریزه کې د اثر په تخنیکي جوړښت، د لیکنې پر میتود، د کتاب د لیکلو پر هدف، سرچینو او بشپړ چوکاټ په اړه معلومات وړاندې کړي.

د سریزې په اړه ډېرې خبرې د یادونې لپاره شته چې ښاغلي صلاحي صاحب په خپل اثرکې ور باندې علمي تبصرې او څېړنې کړې دي. سریزه که څه هم ادبي ژانر نه دی، مګر ارزښت یې تر ادبي ژانر لږ نه دی.

دا اثر چې د علمي پلوه په منظمه توګه اوبدل شوی، کومې سلا مشورې چې د ویلو وړ وې، ما له ښاغلي صلاحي سره مطرح کړې او هغه هم په پراخه سینه په پام کې نیولې دي. لیکوال په ډېره ښه توګه خپل تېزس پر څوکۍ کېنوي او سمه پایله ور څخه تر لاسه کوي، له ډېرو معتبرو علمي اخځونو څخه یې ګټه پورته کړې او ګټور وړاندیزونه لري.

زه د لاربښود استاد په توګه دا علمي څېړنه او ګرويژنه مثبته ارزوم او ښاغلی صلاحي صاحب د دې وړګڼم چې د دغه اثر د ليکلو له مخې، د څېړنوال علمي رتبې ته ترفيع وکړي. خدای(ج) دې زيات عمر ور په برخه کړي. په علمي چارو کې دې تل بريالی وي.

په درنښت

څېړنپوه نعمت الله اندړ

د پښتو څېړنو نړيوال مرکز رئيس

# تقريظ

د يوه كتاب يا رسالې متن معمولاً په سريزه پيل كيږي، پر كتابونو او رسالو سربېره حتى پر ځينو اوږدو مقالو هم لنډې لنډې سريزې ليدل شوې دي، د داسې آثارو هم څه كمی نه احساسېږي چې د يوې سريزې پر ځای څو سريزې پرې كښل شوې، البته تر جلا سرليكونو لاندې لكه: څو خبرې، د سريزې پر ځای، دا اثر، د دې اثر په باب، يوه بله بريا او نور.

زما په نظر دا كار تر ډېره بريده د اثر د ليكوال له خوا شوی او يا كېږي. داسې آثار هم شته چې يا هيڅ سريزه نه لري او يا يې له آر ليكوال څخه پرته بل چا پرې سريزه ليكلې ده، دا وروستي آثار دوه ډوله دي يو ډول يې زموږ د پخوانيو شاعرانو ديوانونه او نثري ليكنې دي، چې زياتره يې سريزې نه لري او په حمد و نعت پيل شوي دي او د يو چا له خوا چاپ ته چمتو او سريزې پرې كښل شوې دي، ځينې يې كه سريزې هم لري، د متن د برابروونكي له خوا بله سريزه هم پرې ليكل شوې ده.

بل ډول يې زموږ د ژونديو ليكوالو او شاعرانو منظوم او منثور آثار دي چې په خپله يې د سريزې له ليكلو ډډه كړې او له بل چا څخه يې د سريزې ليكلو غوښتنه كړې ده او په اصطلاح دا دروند پېټی يې د بل په اوږو بار كړی دی.

سريزه يا مقدمه لكه څنگه يې چې له نامه څخه ښكاري، له معمول سره سم د كتاب يا رسالې په پيل كې راځي او خپلې ځانگړتياوې لري او د اثر ننوتوځی يا مدخل گڼل كېږي. زه په دې ليكنه كې د سريزې د ډولونو او ځانگړتياوو په اړه اوږد بحث نه كوم، ځكه چې د رسالې ښاغلي ليكوال دا موضوع په تفصيل سره

څېړلې، خو دومره وایم چې د ټولو آثارو سریزې سل په سلو کې سره یو شان نه دي، بلکې لړو ډېرتوپیرونه سره لري. د پښتو د لاس ته راغلو آثارو په لړ کې لومړنی اثر د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا (د ٦١٢ هـ . ق تألیف) دی چې څو پاڼې یې زموږ په واک کې دي، دا اثر سریزه لري او د هغه وخت له شرایطو سره سمه لیکل شوې ده.

همدارنګه، د روښاني پړاو د ځینو لیکوالو، د خوشحال خان خټک، د هغه د نامتو لمسیانو او د هغه مهال د نورو لیکوالو او شاعرانو یو شمېر آثار هم سریزې لري چې زه دلته د بېلګې په توګه د دو سریزو ځینې برخې را اخلم، لومړی د عبدالقادر خان خټک د ګلدستې د هغې سریزې څو کرښې را اقتباسوم چې په خپله عبدالقادر خان خټک لیکلې ده.

ورپسې به د پټې خزانې د لیکوال محمد هوتک د سریزې یوه برخه را واخلم. کله چې عبدالقادر خان خټک د ګلدستې، چې د دري ژبې د نومیالي شاعر شیخ سعدي منظوم اثر دی د ژباړې او نظم کولو چارې پیل کوي سبب یې داسې بیانوي: «بعضې دوستانو را څخه ګلستان کتاب لوست، ډېر ډېر به یې راته ویل چې د عربي د فارسي کتابونه ډېر دي اما په پښتو ژبه کې کتابونه د پښتو نه شته، ستا قوت د تصنیف د ترجمې البته شته.... ګلستان کتاب چې مرغوب د خاص و عام دی ... که په پښتو ترجمه شي، پښتنو ته به اسان شي، فایده به یې لویو او هلکو ته ښه ورسي.

زما هم بل شغل درپیش نه و، فارغ ناست وم په شهر رجب کې شروع شه، په رمضان کې په کوتاه عبارت په طریق اختصار په اتمام ورسیده...)).

همدارنگـه د پټـې خزانـې ليکـوال، د دې ارزښـتمند کتـاب د تـأليف او ليکلـو پـر مهـال، پـه خپلـه سريـزه کـې د وخـت د واکمـن د مهربـانۍ او پـاملرنې پـر يـادولو سربېـره پـه هېـواد کـې د حـالاتو پـر بهبـود او ښـه والي هـم رڼـا اچـوي. دی د خپلـې سريـزې پـه يـوه برخـه کـې ليکـي: «... ښـکاره دې وي چـې مـا لـه ډېرشـو کـالو راهيسـې د ډېـرو شـاعرانو د پښـتنو، احوالونـه راټـول کـړي دي او هغـه وقتونـه، چـې د پښـتونخوا پـر لتـو گرځېـدم، لـه وگـړو څخـه مـې ډېـر احوالونـه اروېـدلي دي او اوس هغـه ټـول د خپـل پادشـاه ظـل اللـه پـه غوښـتنې کـاږم، د دې کتـاب نـوم دی «پټـه خزانـه» ځکـه چـې دلتـه هغـه احوالونـه راغـلي دي، چـې پـټ ؤ او نه و ښکاره...»

لکه د مخه مې چې دې ټکي تـه نغوتـه وکـړه، کـه څـه هـم د ټولـو آثـارو سريزې به يو شان نه وي، خو په عام ډول په سريزه کې دغه لاندې ټکي پـه پام کې نيول کېږي:

د موضـوع پـه اړه د عمـومي معلومـاتو وړانـدې کـول، د کـار ميتـود، د موضوع هدف، مبرميت او اړتيا، د اثر لنډه پېژندنه او نور....

مخکـې لـه دې چـې د پورتنيـو سريـزو پـه اړه څـه ووايـم، دا يادونـه اړينـه بـولم چـې ووايـم: هغـه سريـزې چـې يـواځې پـه تشـکر يـا مننـه او عـامو خـبرو چـورلي، علمـي او ميتـوديکي سريـزې يـې نـه شـوگڼلای، هغـه يـواځې تـش پـه نامـه سريـزې دي چـې د دې رسـالې ښـاغلي ليکوال د مبتذلو سريزو په کتار کې گڼلې دي.

اوس راځـم د عبـدالقادر خـان خټـک او محمـد هوتـک سريـزو تـه؛ که څـه هـم هغـه مهـال د نـن پـه څېـر نـه د علومـو سـاحه دومـره پراخـه وه او نـه د څېړنـې د ميتودونـو پـه اړه دومـره بحثونـه او خـبرې کېـدی او نـه

پـه دې اړه کـوم تیـوریکي اثـر لیـدل شـوی دی، خـو مـوږ حتـی د پښـتو د هغــې زمــانې او اوســمهال پــه سریــزو کــې لــه توپیرونــو سره سره ځینــې ورتــه او مشــترک ټکــي هــم وینــو، لکــه عبــدالقادر خــان ختــک چــې پــه پښــــتو ژبــــه د ګلســــتان د ژبــــاړې ســــبب، اړتیــــا او موخــــه بیــــانوي او همدارنګــه وایــي چــې مــا پــه اختصــار ژبــاړلی چــې دا یــې د کــار میتــود دی او موخه یې د پښتنو لپاره د اسانتیاوو برابرول دي.

همدارنګــه د محمــد هوتــک پــه سریــزه کــې د هغــه د کــار میتــود، د اثــر د لیکلــو موخــه او د موضــوع مبرمیــت تــه پــه ښــکاره نغوتــه شــوې ده، البتــه دا د دې معنــا نــه لــري چــې مــوږ بایــد خپــل پخــواني لیکــوال د اوســنیو شرایطــو پــه رڼــا کــې مطالعــه کــړو، بلکــې زمــا موخــه دا ده چــې هغــه مهــال هــم د وخــت لــه غوښــتنو او شرایطــو سره ســم زمــوږ ځینــو لیکوالــو میتودیــک کارونــه کــړي دي، اوس چــې مــوږ تــه شرایــط هــم مساعد دي، نـو بویـه چـې د آثـارو پـه کښـلو کـې لـه بشـپړ علمـي احتیـاط نه کار واخلو.

پــه هــر حــال، دا بحــث نــور نــه اوږدوم او راځــم آرې موضــوع تــه چــې هغــه «پــه پښــتو ادبیــاتو کــې د سریــزې لیکلــو دود او ارزښــت» دی. د دغــې موضــوع مفــردات د مخــه د اړونــد مرکــز لــه خــوا تاییــد او د افغانســتان د علومــو اکــاډمي د علمــي شــورا لــه خــوا تصــویب شــوي او ښــاغلي څېړنــدوی محمــد نبــي صــلاحي د رســمي پړاوونــو لــه تــر سره کېدو وروسته د هغې لیکلو او بشپړولو ته ملا تړلې ده.

دغــه علمــي ــ څېړنیــزه رســاله د پښــتو څېړنــو د نړیــوال مرکــز د ۱۳۹۱/۱۲/۲۱ نېټـې د ٦۳ / ۲۳۱ ګڼـه لیـک پـه ملتیـا د تقـریظ لپـاره

را استول شوې ده چې په اړه یې په لاندې ډول خپل نظر څرګندوم:

دغه اثر یوه سریزه، څلور څپرکي، پایله، وړاندیزونه او اخځلیکونه لري.

د دې په سریزو لیکل شوي اثر په سریزه کې له مقدماتي خبرو وروسته د څېړنې موخه بیان شوې، وروسې د موضوع د مبرمیت او اړتیا په باب خبرې شوې، د کار د میتود پر ښودلو سربېره یې له دود سره سم خپل اثر هم لنډ معرفي کړی دی، زما په نظر دا په سریزو لیکل شوې سریزه له ټاکلو معیارونو سره سمه لیکل شوې ده.

د رسالې لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی، چې لیکوال په پښتو ادبیاتو کې د سریزې لیکنې پر تاریخي بهیر لنډه رڼا اچولې او په ترڅ کې یې ځینې هغه آثار هم لنډ لنډ معرفي کړي چې د سریزو په اړه په کې یو څه تر لاسه کېدای شي او د اړتیا پر مهال یې ځینې آثار د کره کتنې په هینداره کې هم کتلي دي، چې نیوکې او انتقادونه کله سریزو ته او کله هم نېغ په نېغه د هغو لیکوالو ته متوجه دي.

په دې برخه کې لیکوال د خپلې څېړنې په بهیر کې دې پایلې ته رسېدلی چې د دې موضوع که څه هم ځانګړی ادبي ژانر هم نه دی، څېړنه اړینه ده او په ترڅ کې یې دا هم په ډاګه کړې ده چې د پښتو د لاس ته راغلو آثارو په لړ کې لومړنی سړی سلیمان ماکو دی چې په خپل اثر «تذکرة الاولیا» یې سریزه لیکلې ده.

د رسالې دوهم څپرکی د دغو لاندې موضوعګانو څېړنې ته ځانګړی شوی دی:

په ادبي اثر باندې د سریزې لیکلو اړتیا، سریزه څه ته وایي، د مخکینۍ خبرې، یادښت، تقریظ، تقریض او سریزې تر منځ

توپیرونــه او نږدېــوالی، د سریــزو ډولونــه، پــه نړیــوال ادب کــې د سریــزې لیکلو دود او ارزښت.

لیکـوال لـه ټـاکلي فهرسـت سره سـم پـورتنی بېلابېلـې موضـوعګانې د موجودو اخځونو په رڼا کې څېړلـې، د دوی تـر منـځ یـې د اړیکـو پـر څېړنـه سربېره هغه توپیري ټکي هم را برسیره کـړي چـې سریـزه یـې لـه مخکینـی خبرو، یادښت ، تقریظ او تقریض سره لري.

ښاغلي صلاحي د سریزې پر لغوي معنا سربېره دا موضـوع هـم څېړلـې چې د سریزې لیکلو دود پښتو ادب ته له کومې ژبـې او لـه کـومې لارې لار موندلې او د

سریزو د ډولونو د تشریح په ترڅ کې یې علمـي او مبتـذلې سریـزې هـم سره بېلې کړې دي.

د رسالې پـه درېـیم څپرکـي کـې د پښـتو ادبیـاتو د لرغـونې او منځنـی دورې په آثارو کې د سریزې لیکلو موضـوع څېـړل شـوې ده، د ځینـو مهمـو آثارو او د هغو د لیکولو پر لنډه پېژندنه سربېره ځینېتبصرې هـم ورسره ملـې دي.

څلـورم څپرکـی د پښــتو پــه اوســنیو ادبیــاتو کــې د سریــزې لیکلــو د دود څېړنـــې تـــه ځـــانګړی شـــوی، البتـــه لیکـــوال دا برخـــه د کاندیـــد اکاډمیسـین محمـد صـدیق روهـي د پښـتو ادبیـاتو تـاریخ پـه پیـروي پـه څلـورو سرلیکونـو (د روښـانتیا پـړاو، د ویښـتیا پـړاو، د اوښـتون پـړاو، نـوی پړاو) وېشلې ده.

لیکوال لومړی د هر پړاو په باب لنډه رڼا اچولې او وروسته پر هغو سریزو چې له زرګونو سریزو څخـه یـې د «مشـت نمونـه خـروار» پـه دود انتخـاب او خوښــې کــړې دي، بحــث کــړی او د دې پړاوونــو سریــزې یــې پــه دوو ډولــو

وېشلې، يو هغه سريزې دي چې د دې پړاوونو ليکوالو په خپلو او يا د دې مهال د نورو ليکوالو پر آثارو ليکلې او بل ډول هغه سريزې دي چې د اوسنيو ليکوالو له خوا د پښتو په پخوانيو آثارو ليکلې شوې دي.

د رسالې ليکوال دا برخه هم ښه تحليل کړې او د يادو سريزو په اړه يې خپل نظر څرگند کړی دی.

د دې رسالې د اصلي متن په پای کې پايله راغلې چې ليکوال په کې له دود سره سم د خپل اثر لنډيز او نچوړ وړاندې کړی دی.

له وړانديزونو وروسته يې د هغو (۱۲۸) اخځونو فهرست وړاندې کړی چې د دې رسالې په بشپړولو کې يې ترې استفاده کړې ده.

د دې ټولو خبرو په پای کې خپل نظر په دې توگه را لنډوم:

که څه هم ښاغلی صلاحي په ليکنه کې د ښه قلم خاوند دی خو ما بيا هم د هغه د يوه دوست او همکار په توگه ځينې يادښتونه د رسالې د لا غنامندۍ په خاطر ور وسپارل، نوموړي دغه يادښتونه په ورين تندي ومنل او د عمل جامه يې ور واغوستله، چې دا په خپله د څېړنې له اصولو سره د ده په ښه بلديت او لاسبري دلالت کوي. يو له دغو يادښتونو څخه دا و چې دی د څېړنې په بهير کې په ځانگړې توگه چېرته چې د نقد او کره کتنې اړتيا ليدل شوې، تر احساساتو لاندې راغلی او ليکنې ته يې حب و بغض دواړو لار موندلې وه، کله پرې يو غالب شوی او کله بل، نو ځکه ما ورته مشوره ورکړه څو په دغسې مواردو له سره کتنه وکړي، ده په دې او نورو برخو کې زما وړانديزونه او مشورې په ورين تندي ومنلې، چې زه ورڅخه مننه کوم. زما دا يادونې د ده اثر او ترفيع ته کوم زيان نه متوجه کوي، بلکې د ده په حسناتو کې بايد حساب شي.

ـ ښاغلي څېړونکي خپله پروژه لـه منـل شـوو معيـارونو سره سـمه بشـپړه کړې ده او له زياتو مأخذونو څخه يې ګټه اخيستې ده.

ـ ټکي او ليک نښې يې په پوره غور او دقت کارولي دي.

ـ له خپل توان سره سمې هڅه کړې څو ښو ته ښه ووايي او بدو ته بـد، په دغسې مواردو کې تر ډېره بريده برياله برېښي.

ـ د مأخذونو په ښودلو کې يې ټاکلي معيارونه له پامه نه دي غورځولي.

ـ هڅه يې کړې چې خپله ليکنه پـه منـل شـوي معيـاري ليکـدود برابـره وليکي.

ـ زما د معلوماتو له مخې تر اوسه پـه دې ټـاکلې موضـوع کـې دغـه ډول بشپړ اثر نه دی ليکل شوی، نو ځکه به د ځـانګړي اثـر پـه توګـه دا لـومړنی څېړنيز اثر وي.

ـ همدارنګه يې پروژه په يـوې غـوره پـايلې سر تـه رسـولې ده. لـه پـايلې وروسته، ډېر ښه وړانديزونه هم شوي دي.

د پورتنيـو يـادو شـوو او دې تـه ورتـه نـورو ښـېګڼو پـه درلودلـو سره زه د ښاغلي صلاحي اثر مثبت ارزوم، که چېرې يې د ترفيـع نـور اړونـد شرطونـه بشپړ کړي وي، نو د څېړندوی له علمي رتبې څخـه يـې د څېړنـوال علمـي رتبـې تـه د لوړېـدو وړانـديزکوم، پـه علمـي او شخصيـ ژوندانـه کـې ورتـه د څښتن تعالی له دربار څخه د لا نورو برياليتوبونو هيله لرم.

په درنښت

څېړنپوه نصرالله ناصر

د ژبو او ادبياتو د مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت علمي غړی

# تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي غړي ښاغلي څېړندوی محمد نبي صلاحي علمي- څېړنیزه پروژه، چې د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره یې ((په پښتو ادبیاتو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت)) تر سرلیک لاندې لیکلې، د۲۱/۱۲/۱۳۹۱ نېټې د ۶۴/۲۳۲ گڼه رسمي لیک په وسیله ماته له علمي پلوه د ارزونې او نظر څرگندونې لپاره رالېږل شوې وه، د پروژې د منځپانگې له لوستنې وروسته خپله ارزونه او نظر په دې ډول څرگندوم:

سریزه په عام ډول په یوه لیکنه یا وینا کې هاغه مخکینۍ خبرې یا څرگندونې دي چې د وروسته مطالبو د پوهېدنې له پاره لیکل کېږي یا ویل کېږي. هغه باید داسې وي چې د اصلي مطالبو د درک لپاره د لوستونکي یا اورېدونکي ذهن چمتو او اصلي متن ته د ورداخلېدو لارې چارې برابرې کړي. یا سریزه په یوه لیکنه کې د لوستونکي لپاره د موضوع پېژندنه ده، نو لیکوال باید هم خپل حدود وپېژني او هم د خپل لوستونکي.

تر کومه چې خبره پر یو کتاب د سریزې لیکنې پورې اړه او تړاو لري، په دې برخه کې دوه ډوله سریزې لیکنې دود دي :

لومړی هغه سریزه یا سریزې چې د نورو له خوا د لیکوال پر اثر لیکل شوې وي. په دغو لیکنو کې د سریزې لیکوال د خپلې پوهې او استعداد په اندازه هڅه کوي چې د لیکنې د منځپانگې علمي او فني اړخونه په پوره غور او دقت وڅېړي او د ارزونې په ترځ کې یې لوستونکو ته په گوته کړي او د اثر د مؤلف یا ژباړن د علمي استعداد او زیارگالنې مناسبه ارزونه، یادونه او ستاینه وکړي او د خپلې پوهې او بصیرت په رڼا کې په کتاب کې د

ځېړل شوې یا وړانـدې شـوې موضـوع او مطـالبو علمـي، ادبي- او هـنري ښېګڼې، ارزښت او اهمیـت لوسـتونکي تـه وښـیي او د دې تـر څنـګ هڅـه کوي چې د کتاب لـه لیکـوال او لوسـتونکو سره د خواخـوږۍ، همـدردۍ او لوربنې له مخې د ځینو ضروري ټکیو، مفاهیمو، توضیحاتو او څرګنـدونو پـه یادولو او ور زیـاتولو سره د اثـر د معنـوي اړخ پـه بشـپړولو او کـره کولـو کـې ارزښتناکه ونډه ترسره کړي.

دوهمه، هغه سریزه ده چې په خپله د اثر د لیکوال یا ژبـاړونکي لـه خـوا لیکـل کېـږي. د اثـر لیکـوال پـه خپلـه دغـه سریـزه کـې معمـولاً د عمـومي موضـوع پـر ارزښـت او اهمیـت خـبرې کـوي او کـه ورتـه لازمـه وبرېښـي، د موضوع لنډه پېژندنه یا تاریخچه هم بیانوي. که یې له چا سره د لیکنـې پـه برخه کې څه مشوره کړې وي او د هغې په پایله کې یې پـه لیکنـه کـې څـه بدلون راوستی او یـا یـې خپلـې نیمګړتیـاوې پـوره او کـره کـړې وي، د هغـو یادونه کوي او دا هم پـه ګوتـه کـوي چـې معلومـات یـې څنګـه او لـه کومـو سرچینو څخه ترلاسه کړي دي.

لیکوال معمولاً د خپلې سریزې په وروستۍ برخـه کـې لـه هغـو څخـه د مننې څرګندونه کوي چې دې لیکنې ته یې هڅولی، مشـورې او لارښـوونې یې ورتـه کـړې، معلومـاتي سرچینـې او اخځلیکونـه یـې ورښـودلي، د ده پـر کتاب

یې سریزه یا تقریظ لیکلی، یا یې نورې مـادي او معنـوي مرسـتې ورسره کړې دي.

د یادونې وړ ده، سره له دې چـې سریـزه لیکنـه اوس د لوېـدیځې نـړۍ ځینـو لیکوالـو پـه خپلـو لیکنـو کـې لـه پامـه غورځـولې او هغـه د ځـان او لوستونکي د وخت ضایع کېدنه بـولي او پرتـه لـه سریـزې سـیده پـه اصـلي

موضوع پیل کوي،خو زموږ په ختیځه نړۍ کې بشپړ دود دی او تقریباً هېڅ معیاري لیکنه، مقاله وي که کتاب، بې له سریزې نه وړاندې کېږي. زموږ په لیکوالۍ کې سریزه د اثر ډېره مهمه برخه بلل کېږي او زیاتره لوستونکي د اثر ارزښت او اهمیت په همدې سریزه کې لټوي. د سریزې د لیکنې د عمومي روح او د هغې موضوع، چې اثر پرې لیکل شوی، د منځپانګې او معنا د هینداري حیثیت لري، لوستونکی د اثر لوستنې ته هڅوي او د لارښوونې یوه مهمه دنده ترسره کوي، نو په سریزه کې باید مطالب داسې ترتیب شي چې د اصلي موضوع پېژندنې ته لار پرانیزي او څومره چې لنډه، خو جامع، جذابه او منظمه وي، هومره په کې د هڅونې ځواک پیاوړی وي او لوستونکی دې ته اړ باسي چې ټول اثر په غور ولولي.

په لیکوالۍ کې د سریزې همدې ارزښت یا اهمیت ته په کتنه او پاملرنه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز د یوې علمي – فرهنګي اړتیا په توګه د خپلو څېړنیزو چارو په کړنلاره او پلان کې دا موضوع ورځای کړې او ((په پښتو ادبیاتو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت)) ترسر لیک لاندې د یوې علمي – څېړنیزې پروژې په توګه د بشپړولو لپاره یې څېړندوی محمد نبي صلاحي ګومارلی و، چې د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره دا موضوع وڅېړي. موضوع هغه مهال د علومو اکاډمۍ د مشرتابه پلاوي له خوا تائید شوې او نوموړی څېړونکی د ښاغلي څېړنپوه نعمت الله اندړ تر لارښوونې لاندې د هغې بشپړولو ته لاس په کار شوی، چې د ټاکلیو مفرداتو له مخې یې په دې لاندې څلورو څپرکو خپله علمي – څېړنیزه چاره بشپړه کړې ده:

دغه څېړنیزه پروژه د څېړونکي په سریزه، چې په کې د دې څېړنې پر اړتیا، لنډې پېژندنې،د موضوع پر اهمیت، مبرمیت، د خپل کار په

ځرنګوالي او ځېړندود بحث کړی دی، پیل کېږي او بیا په ترتیب سره په لومړي

ځپرکي کې د موضوع شالید(پس منظر) تر سر لیک لاندې هغه آثار د کره کتنې په ترڅ کې په مناسب تفصیل سره راپېژني، چې په کې د سریزې لیکنې په اړه په لږ یا ډېر تفصیل سره تیوریک بحثونه او ځرګندونې راغلې دي.

په دوهم ځپرکي کې، چې سرلیک یې (( په ادبي اثر لیکلو باندې د سریزې اړتیا)) دی، لیکوال د سریزې لغوي او اصطلاحي ادبي پېژندنې، له ډېرو باوري او معتبرو سرچینو ځخه په استفادې وړاندې کړې دي، بیا یې د مخکینۍ خبرې، یادښت، تقریظ او تقریض سره د سریزې ورته والی او توپیرونه په ګوته کړي دي. د سریزې دوه ډولونه (منظومې سریزې او منثورې سریزې) یې په مناسب تفصیل سرهپېژندلي او ځېړلي دي او بیا یې تر یو ځانګړي سرلیک لاندې په نړیوال ادب کې د سریزې لیکلو په دود، ارزښت او اهمیت باندې مفصل ځېړنیز بحث کړی او ښه پوره معلومات یې وړاندې کړي دي.

د دریم ځپرکي سرلیک (( د پښتو ادب په لرغوني او منځنۍ دوره کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت)) دی. ځېړونکي په دې ځپرکي کې لومړی د پښتو ادب په لومړنۍ یا لرغونې دوره کې د سریزه لیکنې په ځرنګوالي بحث کړی او په دې ادبي دوره کې د لومړنۍ ترلاسه شوې سریزې چې سلیمان ماکو په خپل اثر (( تذکرة الاولیاء)) لیکلې ده، د متن بېلګه یې راوړې او د هغې په اړه یې لازمې ځرګندونې کړې دي . بیا یې د پښتو ادب په منځنۍ یا کلاسیکه دوره کې د سریزې لیکنې بهیر په زماني ترتیب سره

بيان کړی او د منثورو او منظومو سريزو ډېرې غوره بېلگې يې راوړې او په اړه يې لازمې څرگندونې کړې دي.

وروستي يا څلورم څپرکي ته ((د پښتو په اوسنيو ادبياتو کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت)) سرليک ورکړل شوی دی.

څېړونکي په دې څپرکي کې په دې لاندې څلورو پړاوونو کې د سريزه ليکنې بهير څېړلی دی:

- د روښانتيا په پړاو کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت،
- د ويښتيا په پړاو کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت،
- د اوښتون په پړاو کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت،
- په نوي پړاو کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت.

ليکوال د دې هر پړاو د سريزه ليکنې بهير ته کره کتنه کړې او د هر پړاو نوميالي سريزه ليکونکي يې را پېژندلي او د هغو سريزو غوره بېلگې يې له يو لړ تبصرو او څرگندونو سره وړاندې کړې دي.

په دې وروستي څپرکي پسې د پروژې ليکوال د ((پايله)) تر سرليک لاندې د څېړنې د ټولو برخو د منځپانگې نچوړ په مجموعي توگه په ډېر لنډون سره وړاندې کړی، بيا يې ځينې وړانديزونه راوړي او د اخځليکونو په ليکلړ باندې علمي – څېړنيزه پروژه پای ته رسېدلې ده .

سره له دې چې د څېړونکي په وړاندې د داسې يوې موضوع د څېړنې چار پرته وه چې په پښتو ژبه او ادب کې لاڅه چې په دري ژبه کې هم دننه په هېواد او بهر نړۍ کې کومه منظمه، سيستماتيکه او اکاډميکه څېړنه، نه وه شوې او يواځې په ځينو سرچينو کې پرې لنډې ضمني يادونې، څرگندونې او تيوريک خواره واره بحثونه شوي وو. صلاحي صاحب له هغو څخه په استفادې او د پښتو ادب د تاريخي بهير په ژورې او دقيقې

مطالعې دا ستونزمنه څېړنیزه چار ترسره کړه.د ډېرو لرغونو، کلاسیکو او معاصرو چاپي آثارو پاڼې يې د خپلې څېړنې د بشپړولو په موخه کتلې او پلټلې دي، د خپلو هلوځلو ثمره او لاسته راوړنه يې د دې علمي اثر په بڼه زموږ ټولنې ته وړاندې کړې چې موږ يې پر اړونده موضوع لومړنۍ علمي او اکاډمیکه څېړنه بللی شو.

په پای کې زه د نوموړي دغه علمي – څېړنيزه پروژه داسې ارزوم :

- څېړونکی د مسايلو او موضوعاتو په څېړنه او سپړنه کې لاس بری دی، استدلالونه او څرګندونې يې په علمي او مدلله توګه وړاندې کړې دي.

- د موضوعاتو په څېړنه کې، زياتره له تاريخي، تحليلي او تشريحي ميتودونو څخه کار اخلي او کله کله يې انتقادي ميتود هم کارولی دی .

- د ليکنې ژبه يې روانه، عامفهمه او له ګونګوالي خالي ده .

- له معتبرو او باوري سرچينو څخه په استفاده يې خپله څېړنه بشپړه کړې او اخځليکونه يې د ليکوالۍ او څېړنې له اصولو سره سم لومړی په هر څپرکي کې په خپل مناسب ځای او بيا په ټوليزه توګه د اثر په پای کې د څېړنې له منل شويو اکاډميکو اصولو او معيارونو له مخې معرفي کړي دي.

- د موضوع د څېړنې او مبرميت اړتيا يې محسوسه او د امکان تر بريده يې څېړنيز حق پر ځای کړی دی.

پورتنيو يادونو ته په کتنه او پاملرنه، زه دا څېړنيزه – علمي پروژه مثبته ارزوم او ليکوال يې د څېړندوی له علمي رتبې څخه د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي وړ ګڼم.

په درنښت

څېړنوال سيد محی الدين هاشمي

د وري دويمه ۱۳۹۲ لمريز کال

# تقريظ

د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز د ۱۳۹۱\۱۱\۲۱ نېټې د ۶۲\۲۳۰ گڼه مکتوب په ځواب کې غواړم څرگنده کړم چې ما د ښاغلي څېړندوی محمدنبي صلاحي ( په پښتو ادبياتو کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت) نومی اثر، سر تر پايه وکوت. نوموړي په خپل دغه علمي ـ څېړنيز اثر کې، له حده زيات زيار ايستلی او د موضوع حق يې په ډېره ښه توگه ادا کړی دی.

د دغه اثر ارزښت په دې کې نغښتی دی، چې تر اوسه پورې په سيستماتيکه او جامع بڼه، په دې اړه هر اړخيزه څېړنه نه وه شوې. په داسې حال کې چې سريزه د کتاب ډېره مهمه او اساسي برخه ده، د اثر لوستلو ته د لوستونکو تلوسه زياتوي، د کتاب محتويات لنډ ور پېژني او په پايله کې د لارښوونې دنده تر سره کوي. يا په بله وينا، سريزه د اصلي موضوع يا بحث لپاره د تمهيد او مدخل حيثيت لري چې د اصلي موضوع څېړنې ته يو فکري انتقالي حرکت هم بلل شوی دی.

له دې امله، په ادبي اثر باندې د سريزې ليکل گڼې ښېگڼې او گټې لري، ښايي د سريزې ليکنې د همدغو ښېگڼو د اغېز پايله وي چې ښاغلی څېړندوی محمدنبي صلاحي يې دې ته را بللی دی، چې دغې علمي ـ څېړنيزې موضوع ته لاس ورکړي او هر راز کړاوونه په ځان ومني، چې له نېکه مرغه نوموړي هم، په خپل دغه زيار او زحمت سره، د پښتو سريزو په معياري کولو کې اغېزمن او گټور گام پورته کړی دی او دغه موضوع يې، د يوه په زړه پورې اثر تر بريده پورې پاللې، اصول او پرنسيپونه يې په ډېره کره توگه ټاکلي دي.

دغه څېړنيز اثر، د ليکوال په سريزه چې په کې يې ددې څېړنې پر اړتيا، لنډې پېژندنې، د موضوع په اهميت، مبرميت او څېړندود بحث کړی دی، پيل کېږي او بيا په ترتيب سره، په لومړي څپرکي کې، د موضوع شاليد تر سر ليک لاندې هغه آثار د کره کتنې په ترڅ کې را پېژني چې په کې د سريزې په اړه لږ و ډېرې څرګندونې راغلې دي.

دوهم څپرکی په ادبي اثر باندې د سريزې اړتيا ته ځانګړی شوی دی. دا څپرکی څلور برخې لري، چې په ترڅ کې يې د سريزې د پېژندنې، اړتيا، اهميت، جوړښت او په دې ډول د سريزې ليکوال په وړاندې د ستونزو د هواري پر لارو چارو باندې مدلل او مفصل بحث راغلی دی.

سربېره پر دې، د ( مخکينۍ خبرې، يادښت، تقريظ اوتقريض) سره، د سريزې په توپيرونو او نږدېوالي باندې په زړه پورې تفصيلي څېړنه شوې ده. بيا په ترتيب سره تر د بېلابېلو سرليکونو لاندې د منظومو او منثورو سريزو د ښودنې په ترڅ کې، ډېرې ښکلې او په زړه پورې بېلګې هم وړاندې شوې دي.

د همدې څپرکي په پای کې، په نړيواله کچه د سريزې ليکلو د څرنګوالي بهير، د موجوده اخځليکونو په رڼا کې په منطقي توګه څېړل شوی دی.

په درېم څپرکي کې ( د پښتو په لرغونې او منځنۍ دوره کې د سريزې ليکلو دود او ارزښت) تر سرليک لاندې، لومړی د پښتو ادبياتو په لرغونې دوره او بيا په منځنۍ دوره کې د سريزې د رامنځته کېدلو تاريخي شاليد بيان شوی او بيا په دې ادبي دورو کې د سريزه ليکنې هنري، تخنيکي او فني ارزښت ښودنې په خوا کې، په زړه پورې بېلګې هم ښودل شوې دي.

څلورم څپرکی د پښتو په اوسنیو ادبیاتو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت ته ځانګړی شوی او په څلورو پړاوونو کې، د سریزې په موضوع باندې رڼا اچول شوې ده، چې د هغو سرلیکونه دا دي :

الف ـ د روښانتیا پړاو ب ـ د ویښتیا پړاو ج ـ د اوښتون پړاو او د ـ نوی پړاو. لیکوال، تر نوموړو سرلیکونو لاندې، په دغو پړاوونو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت، په سیستماتیکه توګه تحلیل او توضیح کړی دی او په بېلابېلو برخو کې یې، ژوره انتقادي کتنه هم کړې ده، چې د نوموړي د همېشنی مطالعې او علمي صلاحیت څرګندویي کوي. د لیکوال په نظر، د ادبي آثارو په پنځونه کې، د نورو پېښې کول او په پټو سترګود هغو پیروي، د سریزې لیکونکي له خوا د هغوی ستاینه، له کرغېړنتیا او ابتذال پرته، بل څه کېدی شي؟!

وروسته پایله، وړاندیزونه او اخځلیکونه هم راغلي دي. په پورتنی یادونې سربېره، دغه اثر نورې ځانګړتیاوې هم لري. د لیکنې ژبه یې معیاري او د لیک نخښو مراعات په مناسبه توګه شوی دی. په څېړنه کې له معتبرو اخځلیکونو څخه ګټه پورته شوې او د اخځ ښودنه یې، په علمي او اکاډمیکو اصولو برابره ده.

د موضوع د څېړنې اهمیت او اړتیا یې محسوسه او هغه یې په علمي دلایلو باندې روښانه کړې ده، نو ځکه یې، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز ته، د چاپ سپارښتنه هم کوم.

په پای کې، زه د دې علمي ـ څېړنیز اثر، پېژندل شوي لیکوال ښاغلي څېړندویمحمد نبي صلاحي ته، په بریمنه توګه، د هغه د بشپړولو مبارکي وایم او د څېړنوال علمي رتبې ته یې د ترفیع وړ او حقدار بولم. په راتلونکي

کې، د دغسې علمي ـ څېړنیزو آثارو په لیکلو کې ورته د لا زیاتو بریاوو هیله کوم.

په درناوي

څېړنوال عبدالشکور قیومي

د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز علمي غړی

او د څېړنو د انستیتوت آمر

# سریزه

د سریـزې ټکـی، د عـربي ژبـې د مقـدمې لـه لفـظ نـه اخیسـتل شـوی دی، په پښتو ژبه او ادب کې یې معادله کلمه سریزه ده.

سریـزه، د اثـر لیکلـو د انګېـزې، ډول، هـدفونو، ځېړنـدود او نتیجـې پــه اړه، د سریـــزې لیکـــونکي لـــومړنۍ لیکنـــه ده چـــې د کتـــاب لـــه بشـپړېدو نـه وروسـته لیکلـه کېـږي، مګـر د اثـر پـه سرکـې را وړل کېـږي.

لــه دې املــه، سریــزه د کتــاب دریڅــه، دروازه یــا ننوتــوځی او هینــداره بلل شوې ده.

سریزه د یوه لیکوال، شاعر او ادیب د قلم نښه ده. هره سریزه پیل، مـنځ او پای لري او باید درې واړه برخې، یوه له بلې سره ژورې اړیکې او منطقـي ارتباط ولري.

پــه پښــتو ادبي آثــارو بانــدې د سریــزو لیکلــو دود او ارزښــت موضــوع ډېــره مهمــه او ارزښــتناکه ده او د کتــاب پېژنــدنې تیــوري د پرنســیپونو او اصـولو د لارو چـارو او پـر کتـابونو د سریـزو او تـبصرو لیکلـو، ارزولـو، کـره کولـو او بشـپړولو پـه برخـه کـې، ښـه وړ مرسـته کـولی شي. بـې لـه شـکه، سریـزې پـه پښـتو ژبـه، پـه بېلابېلـو او مختلفـو زمـانو کـې، د پښـتنو شــاعرانو، ادیبــانو او لیکوالانــو د لیکنــې او لیکــوالۍ نمــونې دي چــې د ادبي جوړښــت او معنــوي ارزښــت ځېړنــه، ارزونــه او تــشریح کــول یــې، پــه ټــاکلي وخــت او زمــان کــې، ډېــر زیــات ادبي، علمــي او تــاریخي اهمیــت لــري. د پښــتو د ادبي آثــارو لوســتونکو، لــه ډېــر پخــوا نــه لــه

سریــزو سره سروکــار درلــود. سریــزه پــه پښــتو کــې اوږد تــاریخ لــري او د وخت په تېرېدو سره زیاتې شوې هم دي.

د دې موضوع په برخه کې، تر اوسه پـورې، زموږپـه افغـاني څېړنـو کـې، ډېرې لږې خـورې ورې یـادونې، لیکنـې او یـوه نیمـه مقالـه شـته، مگـر پـه منظمه او سیسـتماتیکه توگـه، هېڅـا کومـه څېړنـه، نـه ده کـړې. پـه پښـتو څېړنوکې، ځانته او خپلواک اثر، هېڅـا نـه دی لیکلـی. ان پـه دري ادبیـاتو کې هم، د دغه ډول یوې څېړنیزې علمي پروژې درک نه لرو. پـه پښـتو ژبـه کې، د سریزو په اړه دومره لږ تیوریک بحث شوی دی چـې کېـدی شي، پـر هېڅ یـې وشمېرو. زمـوږ پـه ژبـه کـې د سریـزې پـه اړه ځـانگړې لارښـودې کتابونه، بېخي نه دي لیکل شوي، یو شمېر لنډکۍ خبرې او څرکونه لیـدل شوي دي.

مـا (پـه پښـتو ادبیـاتو کـې د سریـزې لیکلـو دود او ارزښـت) موضـوع څېړنــه، لــه تــاریخي او تــشریحي لارو چــارو او میتودونــو نــه پــه گټــې اخیسـتو سره، د زمـاني ترتیـب پـه پـام کـې نیولـو سره تـر سره کـړې ده. پـه ادبي آثـارو د سریـزو مطالعـه، پـه اصـل کـې، د شـعري او نـثري هـنر پــه بــاب د لومړنیــو ارزونــو څېړنــه ده چــې لــه هــنر پرتــه، لــه ټــولنیز او تــاریخي پلــوه هــم، د سریــزې لیکــونکي، شــاعر او ادیــب د ادبي او علمــي کــار څېړنــه، لــه بېلابېلــو میتودونــو نــه پــه اسـتفادې سره، یــوه گټــوره مســأله ده او د ډېــرې پــاملرنې او مطــالعې وړ موضــوع ده. مــوږ کــولی شــو، د دوی پــه لیکنــو او کــړو وړو کــې پــه ډېــره روښــانه توگــه د دوی د تــر سره شــوي ادبي کــار غبرگــون ولټــوو او د سریــزو د تــاریخي ارزښـت پـه څنـگ کـې، د هغـو هـنري، تخنیکـي او فنـي ارزښـت روښـانه کــړو او د سریــزو څرنگــوالی (کیفیــت) او څــومره والــی( کمیــت)، د

ادبپوهنې له پلوه هم وځېړو. معیاري او فرمایشي سریزې سره بېلې کړو، کلیشه یي او هغه سریزې چې خواري په کې شوې وي، هغه په نښه کړو، علمي او غیر علمي سریزې سره جلا کړو. اصلي موضوع ته په پاملرنې سره، کوم آثار چې په دې برخه کې زما لاس ته راغلي، هغه مې کتلي دي. د کرونولوژیک ترتیب په پام کې نیولو سره مې، د پښتو ادبیاتو په بېلابېلو دورو کې، پر ادبي او شعري آثارو د سریزو نخښې، بېلګې او ځرنګوالی، د څېړنوالۍ د تیزس په کالب کې لیکلی دی.

په دغه اثر کې، دازیار ایستل شوی دی چې د څېړنې په پایله کې، د ژبې او ادب درنو لوستونکو او قدرمنو مینه والو ته، یو هر اړخیز علمي اثر وړاندې شي. دا کتاب په دې برخه او په خپل ډول کې لومړنی اثر دی.

دا چې، سریزې د وخت په تېرېدو سره، په پښتوادبي آثارو کې ډېرې لیکل شوې او یو بشپړتیایي او صعودي سیر(لار او لوری) یې وهلی دی. نوکېدی شي د دې علمي او څېړنیزې پروژې په لیکلو سره، د سریزې لور ته د شاعرانو، لیکوالانو او ادیبانو پاملرنه هم زیاته شي. په راتلونکې کې، پر ادبي آثارو باندې، د کتاب پېژندنې له منل شویو معیارونو سره سم، سریزې ولیکلی شي. د سریزو لیکلو په وخت کې، د مسلک خیال وساتل شي، له نا اړوندو او حاشیوي خبرو او بې ځایه تشریحاتو نه، لکه په یوه اثر لیکنه کې د ځان په اړه خبرې کولو او بې ځایه او مبالغه آمیزه ستاینو نه پرهیز او ډډه وشي،ځکه چې داپه سریزو کې یو لوی عیب دی. سریزې نن سبا،په علمي او ادبي آثارو باندې، د زیات غور او دقت، سپارښت،

تایید، ارزونې، منل کېدو او تصدیق په خاطر هم، ډېرې لیکل کېږي، ځکه مو دا نیت کړی دی چې له تاریخي پلوه، د پښتو پر ادبي آثارو باندې، د سریزې لیکلو دود او ارزښت وځېړو او له تاریخي او تشریحي میتودونو او لارو چارو نه په ګټې اخیستنې سره، خپله دغه څېړنه بشپړه کړو. له بله پلوه، په دغه اثر کې د سریزې په لارو چارو او د اثر لوستلو ته د لوستونکو په هڅونې او تشویق باندې هم، علمي بحث شوی دی. موږ پوره باور لرو چې دا کتاب به په راتلونکي کې د یوې علمي سرچینې، منبع اومأخذ حیثیت ولري.

په اصل کې، زموږ د دغې علمي - څېړنیزې پروژې یوه لویه برخه، تیوریکي بڼه لري او په هغې کې، د ادبي اثر د سریزې او له هغې سره د اړوندو موضوعګانو په اړه، تیوریکي او څېړنیزې خبرې شوې دي. بله لویه برخه یې عملي بڼه لري او هغه، په پښتو ادبي آثارو کې، د سریزو لیکلو ته ځانګړې شوې ده. له دې امله، په دغه اثر کې، په بېلابېلو طریقو او میتودونو سره، ټولې هغه لارې چارې او وسایل چې د دې موضوع د څېړنې په برخه کې ضروري وو، هغه په بشپړه توګه، ټول د کار په دوران کې کارول شوي، له هغو نه استفاده شوې او په بېلابېلو حالتونو او پړاوونو کې د سریزې په اړه ټول تکنیکي او علمي روشونه او د هغو ډولونه، تر هر اړخیزې څېړنې او ګروېږنې لاندې نیول شوي دي.

دا اثر په څلورو څپرکو کې چمتو شوی او د زیاتو نمونو او مثالونو په وړاندې کولو سره، د سریزې منل شوی تعریف، مفهوم او نورې اړوندې مسئلې، په اسانه او ساده ژبه باندې بیان شوې دي.

په لومړي څپرکي یعنې شالید (پس منظر) کې، د موضوع اړوند سوابق مطالعه شوي، تجزیه او تحلیل شوي او لوستونکي ته د پښتو سریزې لیکنې د دود او ارزښت پېژندنې په اړه، یو عمومي تصویر ورکړل شوی دی. پر هغو آثارو باندې علمي او ناپېیلي تبصرې او خبرې اترې شوې دي چې د یادې شوې موضوع په اړه، یو څه معلومات لیدل شوي دي. په دغه څپرکي کې، په دې خبره باندې تاکید شوی دی چې سریزه خپلواک ادبي ژانر نه دی او سرمقاله لیکنه، په نوي ژورنالیزم کې یو بېل روش، څانګه او مسلک دی .

په دویم څپرکي کې، په ادبي اثر باندې د سریزې لیکلو اړتیا ښودل شوې ده. دا څپرکی څلور برخې لري: په (الف) برخه کې، د سریزې په پېژندنه او ضرورت باندې، څېړنه شوې ده. د سریزې جامع او منل شوی تعریف وړاندې شوی او په ادبي اثرکې د هغې د راوړلو اړتیا تشریح شوې ده. د سریزه لیکونکي په وړاندې د ستونزو د هوارې لارې چارې بیان شوې او د سریزې په جوړښت، ټول بهیر او موخو باندې، په تفصیل سره هراړخیز بحث شوی دی.

په (ب) برخه کې، د مخکینۍ خبرې، یادښت، تقریظ، تقریض او سریزې وضاحت، ارزونه او ځانګړتیاوې بیان شوې دي. د دوی تر منځ توپیرونه او نږدېوالی روښانه شوی دی. په (ج) برخه کې، د سریزې ډولونه بیان شوي او د منظومو اومنثورو سریزو په اړه، اړین بحث شوی دی. په دې برخه کې په نړیوال ادب کې، د سریزې لیکلو دود او ارزښت هم په ګوته شوی دی.

درېیم څپرکی چې د پښتو ادب په لرغوني او منځنۍ دوره کې، د سریزې لیکلو دود او ارزښت نومېږي، دوې برخې لري: په (الف)

برخــه کــې د پښــتوادب پــه لرغــونې دوره کــې د سریــزې لیکلــو دود او ارزښــت بیــان شــوی دی. پــه (ب) برخــه کــې د پښــتو ادب پــه منځنــۍ دوره کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت ښودل شوی دی.

په ډېره لنډه او ځغلنده توګه، د دواړو ادبي دورو، زماني واټن او ادبي ځانګړتیاوې بیان شوې دي. د پښتو ادب په لرغونې او منځنۍ دورو کې، د پښتو سریزو نمونې تشریح شوې دي. سریزه، د پښتو ادب په لرغونې دوره کې لاس ته راغلې. کله چې د پښتو په منځنۍ دوره کې د پښتنو لیکوالو د پوهې او پېژندګلوي ساحه پراخه شوې، سریزې هم ډېرې او ښایسته شوې دي.

څلـورم څپرکـې څلـور برخـې او پړاوونـه لـري، پـه هـر پـړاو کـې، د تـازه مطـالبو پـه مونـدلو او وړانـدې کولـو پسـې هڅـه شـوې ده. پـه دې توګـه د پښــتو پــه اوســنیو ادبیــاتو کــې د سریــزې لیکلــو دود او ارزښــت، پــه څلـورو اړونـدو، مګـر بېلابېلـو پړاوونـو کـې تــشریح شـوی دی. د پښــتو د اوســنۍ دورې دغــه وېــش (د پښــتو ادبیــاتو تــاریخ) د معــاصرې دورې لیکـوال پـر بنسـټ شـوی دی. د هـر یـوه پـړاو زمـاني واټـن ښـودل شـوی او د هر پړاو ادبي ځانګړتیاوې هم بیان شوې دي.

په (الف) برخه کې د روښانتیا په پړاو کې د سریزې لیکلو دود او ارزښت بیان شوی. په (ب)برخه کې د ویښتیا په پړاو کـې، د سریـزې لیکلـو دود او ارزښت تشریح شوی دی.

پــه (ج) برخــه کــې د اوښــتون پــه پــړاو کــې د سریــزې لیکلــو دود او ارزښـت بانـدې رڼـا اچـول شـوې ده. پـه دې برخـه کـې پـه نـوي پـړاو کـې د سریـزې لیکلـو دود او ارزښـت پـه ډاګـه شـوی دی. د اثـر پـه پـای کـې، پایلـه راوړل شـوې، لـه هغـې وروسـته، وړانـدیزونو تـه ځـای ور کـړ شـوی

دی او د کتاب په وروستي برخه کې، سرچينې (مأخذونه) ښودل شوي. په دې اثر کې هڅه شوې ده چې د منل شويو علمي اصولو او پرنسيپونو په پام کې نيولو سره سم، څېړنه او تحقيق تر سره شي. په دغه اثر کې د معياري سريزې د ليکلو طريقه، تکنيک، فن او لارې چارې ښودل شوې او د هغې بشپړ جوړښت بيان شوی دی. د سريزې ليکلو لپاره، د ليکوال په انګېزه باندې خبرې شوې دي. په ادبي اثر باندې د سريزې ليکلو وخت، د ښې سريزې ځانګړتياوې، د ځينو سريزو عيبونه او د سريزې ليکلو په وخت کې، د ليکوال په رېړو او ستونزو باندې هر اړخيزې خبرې او علمي بحث شوی دی.

په پای کې له قدرمن لارښود استاد څېړنپوه نعمت الله اندړ نه د زړه له کومې مننه کوم چې د دې اثر د ليکلو په برخه کې يې خپلې علمي لارښوونې له ما څخه نه دي سپمولې. د پښتو ادب هڅاندو ليکوالو محترم څېړنپوه نصرالله ناصر، درانه څېړنوال سيد محی الدين هاشمي او عزتمن څېړنوال عبدالشکور قيومي ته هم، د زړه له اخلاصه کوروداني وايم، د دوی د علمي پېرزوينو، سپارښتنو او مرستو قدرکوم. خدای پاک (ج) دې وکړي چې دغه کتاب د پښتو سريزو په معياري کولو، اغېزمن کولو او ښايسته کولو کې ګټور ثابت شي او ځوان څېړونکي، د سريزو د منابعو او د کتابونو د حواشيو په برخو کې خپلې څېړنې ژورې او پراخې کړي.

په درناوي

څېړندوی محمدنبي صلاحي

کابل ـ د علومو اکاډمي

۱۳۹۱/۱/۱۱هـ. ل.